## د مدنی اسنادو د نشتوالی اغیز:

که څه هم د مدني اسنادو په اړه په نړیواله کچه کوم منل شــوی تعریف شتون نلری، دا د هر هغه رسمي ســند په توګه چې د مجاز دولتي ارګانونو لخوا صادرېږی تعریف کیدی شي، کوم چې د یو شــخص مدني حالت په اثبات رســوي. په مدني اســنادو کې د زوکړي کارت، نکاح خط، د مړيني سند، او داسی نور اسناد شامل دی، کوم چې د اړوندو ارګانونو څخه تر لاســـــه کیږي. د مدنی اسنادو نه لرل کولای شــی مونږ د لاندې حقوقو څخه بې برخی کړي.

- د میراث او د ازدواجي ملکیت حقوقو ته لاس رسی
- کارو بار ته لاس رسی
- بشري مرستو ته لاس رسی
- روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی
- زده کړو ته لاس رسی
- نورو مدنی اسنادو ته لاسرسی
- د تګ را تګ آزادي
- عدالت ته لاس رسی
- بانکی خدمتونو او قرضی ته لاسرسی



HRRAC
Human Rights Research and Advocacy Consortium


ادرس دفتری مرکزی

خانه نمبر 12 کوچه چهارم سرک 13

وزیر اکبر خان، کابل، افغانستان

شماره تماس : ۰۲۰۲۳۱۱۴۳۷

ایمیل: info@hrrac.af

ویبسایت: www.hrrac.af

Add: House# 12 Lane 4E, Street# 13, Wazir Akbar Khan, Kabul - Afghanistan


## تذکره:

تذکره د افغانانو د هویت پیژندنې عمده او اساسی سند دی، چې د مختلفو دولتي خدماتو، او په دولتي او خصــوصي سکتور کې د دندې ترلاسه کولو لپاره یو مهم‌شرط دی. نورو هویتي اسنادو لکه پاســـپورټ او د موټر چلولو جواز ترلاســـه کولو لپاره د تذکرې درلودل اړیندي.

## په ولایاتو کی د تذکری اخیستنی پروسه.

۱- ولسوال ته عریضه جمع کول ← ۲- د کلي د مشر له لوري د پیژندنې او هستوګنې تصدیق ← ۳- د ولسوالی د احصایی مامورینو له لوري د عریضې تایید ← ۴- د تذکرې اجرا کیدل

د الیکترونیکی تذکری اخیستلو لپاره فورم په آنلاین بنه ډکیږي.
د لا ډیرو معلوماتو لپاره د افغانستان د احصایی او معلوماتو ملی اداری رسمی ویب پاڼې http://nsia.gov.af/home ته مراجعه وکړئ.



## پاسپورټ:

د پاسپورټ د ترلاسه کولو لپاره د تذکرې شتون اړین دي. د افغانستان پاسپورټ د تذکرې د اصلي کاپي په چمتو کولو چې د نفوسو د احوال د ثبت اداري لخوا تصدیق شوی وي، صادریږي. د پاسپورټ د عریضې سربیره، څلور عکسونه او د فیس د ورکړې رسید هم باید چمتو شي. د پاسپورټ غوښتونکي بایومتریکی معلومات د غوښتنلیک د پروسې په جریان کې ثبت کیږي. پاسپورټ د افغان تابعیت اصلي ثبوت وړاندې کوي او د افغانستان څخه خارجي هیوادونو ته د تګ راتګ زمینه برابروي.



### په ولایاتو کی د پاسپورټ اخیستنی پروسه:

۱- پاسپورت ریاست ته عریضه، د بایومیترک معلومات، او د تایید شوی تذکری کاپي جمع کول

۲- د پاسپورت ټاکل شوی فیس تادیه کول

۳- د مرکزی پاسپورت ریاست سره د اسنادو شریکول او تصدیق

۴- پاسپورت چاپ او اجرأ کیدل




## د واده سندونه:

د افغانســـتان د مدني قانون له مخې هر واده باید ثبت او د واده سند باید واخســـتل شی. دا چې د واده د سند د اخســـتلو پروسه پیچلې ده، نو لدې وجې ډیرې خلک نکاح خط یا د واده سند نه جوړوي.

### د واده د سند د ترلاسه کولو پروسه:

۱- د هویتی اسنادو په درلودلو سره د هویت تثبیت

۲- د شخصي توضیحاتو او پخوانیو ودونو د جزیاتو تصدیق

۳- د وړ محکمې لخوا تصدیق شوی معلومات، او د دوه شاهدانو له تایید وروسته، سند د محکمې لخوا ثبت او اجرأ کیږي.

## د زوکړې کارت:

د نفوسو د ثبت قانون، د عامې روغتیا بنسټونه او والدین مکلفوی ترڅو نوي زیږیدونکی ماشومان ثبت کړي. ټول نوی زیږیدلی ماشومان باید تر دریو میاشتو پوري ثبت شي.

### د زوکړې د کارت د ترلاسه کولو پروسه:



د عامې روغتیا وزارت د دوی په تاسیســـاتو کې نوي زیږیدلی ماشومانو د ثبت او راجســـترولو مســـؤلیت په غاړه لري. ثبت شویو ماشـــومانو ته د احوال نفوس ریاســـتونو کی تایید شـــوی کارتونه ورکول کیږي. په کور کې زیږیدنه کیدی شي د ټولنې د مشــــــرانو او مذهبي اشخاصو لخوا ثبت او د احوال نفوس ریاستسره شریک شي.